د مقالې ترلاسه کولو نېټه(۲۸ / ۰۶ /۱۴۰۴ لمريز کال
د مقالې د آنلاین نشر نېټه (۲۰ / ۱ / ۱۴۰۵ لمریز

# په ټولنیز ژوند کې د ماشومانو حقونه

**مسئول لیکوال: عالم خان احمدي**

پښتو دیپارتمنت د ادبیاتو پوهنځی، کابل ښوونې او روزنې پوهنتون: ماستر

ایمیل: alamkhanahmadi@gamil

**لنډیز**

ټول انسانان په ټولنه کې یو لړ حقونه لري، خو ماشومان بیا ځانګړي او بیل حقونه لري. ماشومان د ټولنې د بشري پانګې لومړنی بنسټ جوړه وي، او د ودې حساس پړاوونه یې د داسې خوندي چاپېریال غوښتنه کوي چې امنیت، تعلیم، عاطفي ملاتړ، روغتیا، تغذیه، ساتنه او ټولنیز ګډون پکې تضمین شي. د ماشومانو د حقونو نه مراعت کول نه یوازې د هغوی په رواني، ټولنیز او شخصیتي جوړښت ژور منفي اغېز کوي، بلکې د ټولنې پر عمومي ثبات، پرمختګ او انساني ارزښتونو هم مستقیم خطرونه رامنځته کوي. څېړنې څرګندوي چې د کورنۍ، ښوونځي، ټولنې او دولتي بنسټونو ګډ رول د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب لپاره بنسټیز اهمیت لري. د دې رول نشتوالی د تاوتریخوالي، بې‌پروایی، جبري کار، تعلیمي محرومیت او ګډوډ شخصیتي جوړښتونو د زیاتېدو لامل ګرځي، چې وروستی پایله یې د ټولنیزو بحرانونو په بڼه راڅرګندېږي. د څېړنې موخه د ماشومانو د حقونو پېژندنه، د ساتنې او سمې روزنې د اړتیاوو ټولنیز، رواني او حقوقي اړخونو تحلیل، د کورنۍ مشرانو، ښوونځي او ټولنې د مسؤلیتونو حدود مشخصول، او د عملي پلې کېدو لپاره د هغو حل لارو وړاندې کول دي چې د ماشومانو امنیت، تعلیم او ټولنیز مشارکت تضمین کړي. د مقالې هدف یوازې تشریح نه ده، بلکې لوستونکي دې پایلې ته رسوي چې د ماشومانو حقونه د سالمې او هوسا ټولنې د بنسټ جوړولو لپاره یوه نه بدلېدونکې اړتیا ده. په دې څېړنه کې له کتابتوني میتود څخه کار اخیستل شوی دی، او د قرآن کریم، احادیثو، ملي قوانینو، تګلارو، علمي مقالو او څېړنیزو کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**کلیدي کلمې:** ټولنه؛ حقونه؛ روزنه؛ ژوند او ماشوم

# Children’s Rights in Social Life

**Author: Alam Khan Ahmadi**
Kabul Education University Master،Department: Pashto, Faculty of Literature
Email alamkhanahmadi@gamil

## Abstract

All human beings possess certain rights within society, but children hold distinct and specific rights. Children form the primary foundation of a society’s human capital, and their sensitive stages of development require a safe environment that ensures security, education, emotional support, health, nutrition, protection, and social participation. Failure to uphold children’s rights not only has profound negative impacts on their psychological, social, and personality development, but also poses direct threats to the overall stability, progress, and human values of society. Research indicates that the collaborative role of the family, school, community, and governmental institutions is essential for safeguarding children’s rights. The absence of this coordinated role contributes to increased violence, neglect, child labor, educational deprivation, and disordered personality development issues that ultimately manifest as widespread social crises.

The purpose of this study is to identify children’s rights, analyze the social, psychological, and legal aspects of their protection and proper upbringing, clarify the responsibilities of family elders, schools, and the community, and propose practical solutions that ensure children’s safety, education, and social participation. The aim of the article is not merely descriptive; rather, it seeks to guide the reader to the conclusion that the protection of children’s rights is an indispensable requirement for building a healthy and prosperous society. This study employs a library-based research method and utilizes sources from the Holy Qur’an, Hadith, national laws and policies, academic articles, and research-based books.

**Keywords:** Society, Rights, Education, Life, Child

**۱ـ سریزه**

ماشومان د ټولنې هغه نازک، سپېڅلي او راتلونکي جوړوونکي غړي دي چې د دوی روزنه، پالنه او حقونو ته پاملرنه د هرې سالمې ټولنې اساسي بنسټ جوړه وي. په ټولنیز ژوند کې د ماشومانو حقوق یوازې قانوني حقونه نه دي، بلکې اخلاقي، انساني او تعلیمي مسولیتونه هم رانغاړي. که د ماشومانو حقونه خوندي نه شي، د ټولنې راتلونکی نسل له فکري، روحي او ټولنیزو ستونزو سره مخ کېږي او د ټولنیز نظم ټینګښت له جدي ګواښ سره مخامخېږي. له همدې امله، د دې موضوع څېړنه یوه مهمه علمي او ټولنیزه اړتیا ده چې د پالیسۍ جوړونکو، ښوونکو، مور او پلار او ټولنیزو ادارو لپاره ارزښتناکې پایلې وړاندې کوي.

د دغه څېړنې اهمیت په دې کې دی چې ماشومان د ټولنې بنسټیزه پانګه ده، او د هغوی حقوقو ته پاملرنه د ټولنې د سوکالۍ، عدالت او فرهنګي پرمختګ لپاره ضروري ده. د ماشومانو د حقونو عملي کول د هغوی د شخصیت د سالمې ودې، ذهني ارامتیا، تعلیمي بریا او ټولنیز مشارکت لپاره اساسي رول لري. همدارنګه، د ماشومانو د حقونو نه مراعت کول د تاوتریخوالي، محرومیت، بېعدالتۍ او ټولنیز انحراف د زیاتوالي سبب ګرځي. د همدې لپاره دغه څېړنه د علمي کارونو تر څنګ د ټولنې د پوهاوي لوړولو او د پالیسۍ جوړونې لپاره ارزښتناکه مرجع ګرځي.

د دې څېړنې بنسټیزې موخې په دې ډول دي؛ د ټولنیز ژوند په چوکاټ کې د ماشومانو اساسي حقوقو پېژندنه او تعریف. د مور او پلار، ښوونکو او ټولنې د رول ارزونه په دې برخه کې چې څنګه د ماشومانو حقوق خوندي کېږي. د هغو ټولنیزو منفي عواملو څېړنه چې د ماشومانو حقونه زیانمنوي. د ماشومانو د حقونو د ښه تطبیق لپاره د علمي او عملي لارو چارو وړاندې کول.

د څېړنې ستونزې او محدودیتونه، د دې څېړنې په بهیر کې ځینې ستونزې راولاړېدای شي، چې تر ټولو مهمې یې دا دي: په ډېرو کورنیو او ټولنو کې د ماشومانو حقونو په اړه کافي پوهاوی نه شته. د کره شمېرو او مستندو منابعو نشتوالی چې څېړونکی له دقیقو پایلو محروموي. د ماشومانو د حقونو د نقض په اړه د خلکو د معلوماتو پټول یا د بیان ډار. د اقتصادي ستونزو، بېوسۍ او دودیزو باورونو اغېز چې د موضوع ریښتینې څېړنه ستونزمنوي. د اړوندو ادارو د همکارۍ کموالی او د اسنادو نه شتون،عامه پوهاوی هغه سونزې دي چې دغه ډول څېړنو کې یو ډول سرخوږی وي. خو دغه موضوع کې یو تعداد لیکوالانو خپل قلمي ځواک ازمویلی دی چې دهغوی یادونه په لاندې ډول دی.

عطا محمدمیاخیل د ماشوم پالنه په نامه کتاب چې په (۱۳۹۷ل ) ژباړلی دی. دکتاب محتوا ټوله ماشوم پالني ته ځانګړې شوي ده. په دغه کتاب کې لاندې موضوعات بیان شوي دي. د ماشوم چلندونه، له ماشوم سره بدي خبري کول،له ماشومانو سره بد چلندکول د اولادنو ترمنځ توپیرونه، د ماشوم د روزلو مهم ټکې چې څرنګه و کولای شو چې ښه ماشومان هم له ادبي او هم له اخلاقي پلوه ولرو خو په ټوله کې دغه کتاب هغه لارښوونو ته ځانګړی شوي چې ماشوم څرنګه وپالو او هغه څرنګه له بدو عادتونو څخه خلاص کړي.

د پوهنیار نرګس مومند حسنزۍ کتاب ده. په (۱۳۹٦ ل) چاپ شوی ده. د کتاب محتوا د ماشومانو ادبیاتو ته ځانګړي شوي، دغه کتاب ماشوم چا ته وایې او ماشوم ته څرنګه ادبیات ولیکو او ماشوم د ادب نظم اونثر

ځانګړنې پکې راغلي د ماشوم د ادبياتو تاريخچه هم په نړيواله سطحه او په سميزه کچه باندې څېړل شوي ده او نور واړه واړه موضوعات هم لري په ټوله کې کتاب د ماشوم ادب ليکلارښود ته ځانګړی شوي دی.
د ماشومانو د حقوق په اړه يو کتاب ليکل شوی دی. ليکوال يې پوهندوي عبدالناصر ستانکزی دی. د چاپ کال (۱۴۰۳ ل)، د ستانکزي صاحب د کتاب محتوا ټول حقونو ته ځانکړي شوي دي. د ماشومانو حقوق څه دي او اسلام ماشومانو ته کوم حقوقونه ورکړي دي، همدارنګه د تولد څخه مخکې او ورسته، د ماشومانو د دورو په اړه مفصل بيان کړی دی. ماشوم پيژندنه يې د افغانستان په قوانينو کې، نړيوالو قوانينو کې تشريح کړې دي او همدازنګه ماشومان ته کوم حقونه ورکړ شوي دي. په ټوله کې د ماشومانو حقونه چې په مشرانو په ځانګړي ډول والدينو باندي لري څېړل شوې دي.
دماشومانو ادبيات چې ليکوال يې رفيع الله نيازی دی، نوموړی کتاب په (۱۳۸۹ل ) له چاپ څخه راوتلی دی دغه کتاب هم د ماشوم ادب او دماشوم د ادبياتو لارښوونې ته ځانګړی شوی دی کتاب کې ادبيات، ماشوم ادبيات، د ماشوم ادبياتو ډولونه، په دغه برخه په مفصل ډول باندې بحث شوی دی.
تربيت و اصلاح فرزندان د کتاب ليکوال مفتی محمد قاسم قاسمي دی نوموړی کتاب د انتشارات علامه ندوی رحمه الله له لوري چاپ شوی دی په ۱۳۹۴ لمريز کال کې د ماشومان د روزنې په اړه ليکل شوی دی، چې لومړی له زيږدنې څخه بيا د ځوانۍ تر محلي پوري د ماشومانود دورو ټول پړاونه تشريح شوي دي د کتاب محتوا ټول ديني اړخ لري د ماشومانو روزنه يې هم له ديني اړخ څخه کړي ده کتاب په دري ژبه ليکل شوی دی او ټول هغه څه پکي راغلي دي چې بايد له ماشوم سره د هغه په تربيت کې تر سره شي. او همدارنګه د ماشومانو د تربيت ، د ماشومانو د ادبياتو او د ماشومانو د ښو کړنو په اړه زياتو ليکوالانو مقالي ليکلي دي چې د هغې جملې څخه د مصور بنسټ په مجله کې د پوهنې وزارت په مجله کې زياتي مقالي ليکل شوې دي.

**۲ـ د څېړنې مېتود**

دا څېړنه د نوعيت له اړخه توصيفي کيفي ده چې د معلوماتو د راټولولو لپاره د کتابتوني او کيفي مېودونو څخه استفاده شوې ده. څېړنه له موثقو منابعو لکه درسي کتابونو، اسلامي متونو، مقالو، څېړنيزو اثارو او راپورونو څخه ترسره شوې.
څېړنه له ادبي، ټولنيز او شرعي اړخه په ټولنيز ژوند کې د ماشومانو حقونو او د متنونو تحليل له لارې د موضوع بنسټيز اړخونه څېړل شوي. دې ميتود ماته ښه زمينه برابره کړې چې د ماشومانو پر ژوند د اغېزو ژور فهم او تحليل وړاندې کړم .

**۳ـ موندنې**

د ماشومانو حقونه په مشرانو: مخکې له دې چې د ماشوم په حقونو او د ماشوم په ادب باندې بحث ولري لومړی بايد د حقوقو په اړه بحث ولرو، او همدارنګه د انسان په اړه بحث ولرو چې ماشوم هم د همدي انساني ټولنې يوه برخه دی. په اړه يو لنډ بحث ولرو.

د حقوقو مفهم څه ده: حقوق د ټولنیزو علومو له جملي څخه یو مهم او برجسته علم دی. حقوق یوه عربي کلمه ده، چې د حق جمع ده او بیا د حق لغات ډېري ماناوې لري، لکه د الله ج یو نوم هم حق ده، حق د برخه او سهم په معنا هم ده، د مالکیت په معنا هم ده. د عدالت په معنا، د امتیاز په معنا او داسي نوري ... معناوي هم لري. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

لکه څرنګه چې ټولنیز علوم یو ټاکلی تعریف نه لري نو په همدې ترتیب سره حقوق هم یوه ټاکلی او د ټولو د منلي وړ تعریف نه لري، او بېلابیلو علماوو د علم او ادب خاوندانو بیل بیل تعریف کړ دي.

د کانت له نظره: حقوق د هغو منظمو شرایطومجموعه ده، چې د هغې په اساس د یوشخص اراده، د ازادئ له اصل سره سم د نورو د ګډي ارادې او ګټو سره یوالی مومي. نو حقوق د حق له کلیمې څخه اخستل شوي کلمه ده، چې د یو شخص حق په معنوي او مادي څیزونو کې معلومې برخي ته ویل کیږي.

دحقوقو اصطلاحي تعریف: لومړی علماوو حقوقو په دوه برخو ویشلي دي چې لومړي برخه یې د افاقي حقوق او دوهمه برخه عندي (ذاتي) برخه ده چې هره یوه برخه به بیا ځانګړی تعریفونه لري.

دا یوه عمومي خبره ده چې تر هرڅه د مخه باید اصل وپېژندل شي بیا ورسته یې نوري برخي وڅېړل شي، دلته هم لومړی انسان پیژنو چې انسان څوک دی او چا ته وایي، بیا ورسته ټولنه او ماشوم وپیژنو د ماشومتوب په دورو به خبرې وکړو او په ادبیاتو باندي په مفصل ډول وڅیړل شي.

انسان: په لغوي توګه، دانسان دکلمې په اړه د پوهانو ترمنځ مختلیف نظرونه شتون لري. چې هرعالم بیا دا په بېل بېل تعریف اویا هم ځینو پوهانو ورته تعریف کړي. نو دلته به دوه نظره له نورو نظریو متفاوت راوړو.

لومړی نظریه : ډېری پوهان په دې عقیده دي چې د انسان د کلیمي اصلي توري یا حروف (ن،س،ی ) چې له نسیان څخه اخستل شوي او دغه کلمه بیا په عربي ژبه کې د هیریدو په معنا دي، یعني انسان هېرېدونکی ده.

دویمه نظریه: دویمي نظریې علما بیا په دي عقیده دي چې د انسان کلمه د حروف ( الف ،ن،س) دي چې داُنس، مینې، محبت، او ترون په معنا دي چې متضاد یې وحشت او نفرت ده. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

نوله پورته څرګندونو څخه داسي جوته شوه چې انسان یو ټولنیز مخلوق ده او په تنها یې سره ژوند نشي کولای او که یې چېرته کوي هم خو له یولړ ستونزو سره به مخامخ وي. نو په همدي اساس انسان د مینې،محبت،ورورولي، په فضا کې داسي ژوند وکړي چې دا پورته ټولي ځانګړنې باید پکي موجودي، ځکه انسانان د فکر خاوندان دي د ښو او بدو توپیر کولی شي، نو بیا باید د امن، ورورلي، میني، محبت، په فضا کې داسي ژوند کوي چې یو له بل سره خوښ وي او د ژوند بهېر په ښه توګه پرمخ بوځي.

ټولنه: ټولنه د انسانانو هغه منظمه ډله ده چې په یوه جغرافیوي سیمه کې د ګډ ژوند، همکاریو، اړیکو، دودونو، ارزښتونو، اصولو او قوانینو له مخې ژوند کوي. (فضلي،۱۳۹۵، ۲۷)

په بل عبارت : ټولنه هغه ډله خلک دي چې یوبل سره اړیکې لري، ګډ ژوند کوي او ګډ هدفونه، اصول او کلتور لري. ټولنه باید لاندې ځانګړتیاوي ولري۱: ګډ ژوند او متقابلې اړیکې ۲: ګډ ارزښتونه او دودونه ۳: قوانین او نظم ۴: د یووالي حس ۵: د همکاریو اړتیا

کورنۍ یوه کوچنۍ ټولنه ده. یوه کلیوالي یا ښاري سیمه هم یوه پراخه ټولنه ده. آن یو ښوونځی، دفتر یا مسجد هم ټولنیز جوړښت لري.

ټولنه د انسان د ژوند نه بېلېدونکی اړخ دی، ځکه انسان فطرتاً ټولنیز موجود دی.

ماشوم چاته وایې ؟ ماشومان د انسانې ټولنې یوه برخه تشکیله وي، هغه برخه ده چې د یو ټولنې راتلوونکی په ماشومانو پوري اړه لري. او د ټولنې د ملا تېر بلل کېږي نو ماشومانو ته چې کوم حقونه اسلام ورکړي دي هغه باید ورکړ شی که چېرته هغه کوم حقونه چې ورکړ شوي دي او زیاتره تري واخستل شي نو په ټولنه کې هم د دوي رول کم رنګه وي او راتلوونکې ټولنه به له ستونزو سره مخامخ وي.

په لومړي سره کې ماشوم چاته وایې او کوم عمرونه د ماشومتوب دي په دي اړه به په مفصل ډول معلومات وړاندي شي .

ماشومتوب یوه داسي دوره ده، چې په ټولو انسانانو باندي دغه دوره تیریږي هغه که نارینه وي او یا ښځینه وي چې د زړښت مرحلي ته رسیږي نو دا دوره حتمي وربانديِ راځي. نو موږ ټول یو تعداد ښې او بدي خاطري د ماشومتوب لرو. چې له دغو ښو او بدو خاطرو څخه مو ښه ګټه اخستي وي او بیا ځلي تکرار نه کړو په اسلامې شریعت کې ماشوم څوک دی او کوم حقونه په مشرانو لري او همدارنګه د اروپوهنې له پلوه ماشوم چاته وایې او کوم عمرونه ورته ځانګړي شوي دي.

علامه ابن اثیر داسلام له نظره ماشوم داسې را پیژني: « په عربي ژبه کې ماشوم ته (طفل ) وایي، چې اطفال ،طفله ، طفل او نور د نوموړې کلمې د ډېرګړي (جمع ) لپاره کارول کیږي . طفل په لغت کې (صبي) (ماشوم) ته وایي، چې دصبی کلیمه د نرینه او ښځینه ( مذکر او مونث ) او د دواړو د جمعي لپاره هم راځي او د شرعیت په اصطلاح کې صبي ( ماشوم) هغه چا ته ویل کېږي چې د ځوانۍ پړاو ته نه وي رسېدلي، یعنې بالغ شوی نه وي ، چې دا پړاو د مور له ګېډې څخه تر زورکړي یا پیدایښت څخه نیولي تر ځوانۍ ته تر رسیدو پوري دوام لري د ځواني او بلغ دوره په انسانانو کې توپیر لري یعنې له نهه کلنې نیولي تر شپاړلس کلنې پوري وي چې دغه کلونه هغه وخت ده،چې نارینه او ښیځنه بلوغ ته ر سیږي نو یو بل توپیر دا ده چې ښځینه تر نارینه وو ژربلوغ ته رسیږي په اسلام کې هغه ماشومان چې بلوغ ته نه وي رسیدلي ځانګړي حقونه لري د ژوند په ټولوبرخو کې لکه په جزایې برخه کې د محکمې په ځای ماشومانو محبس ته لېږل کېږي چې په ځانګړي ډول ماشومانو ته ځانګړی شوي او ټول هغه ماشومان چې جنایې جرمونه کوي او یا کوم بل ډول جرم کوي نو همدي محبس ته راوړل کېږي چې عمریې له اتلسو کلونو کم وي.(عمر،۱۳۹۴)

خوکله چې یو ماشوم بالغ شي نو بیا کوم حقونه چې نور بالغ انسانانو ته شرعیت وکړي وي نو همدي هم ورڅخه برخمند کیدای شي.

خو د ماشوم پیژندني په اړه چې تعریف راغلي هغه د قرانکریم څخه اخستل شوی، په دي اړه د قرانکریم د (نور ) سورت په نهه پنځوسم سورت راغلي دي :

(( وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡ أَطۡفَالُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ فَلۡيَسۡتَأۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَأۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ)) ( سورت نور ۵۹ ) ژباړه کله چې ستاسې ماشومان د بلوغ حد ته ورسېږي، نو باید اجازه وغواړي، لکه څرنگه چې هغه کسان چې تر دوی وړاندې وو، اجازه غوښتله. ډېروو علماوو د( الحلم ) کلیمه د ځوانۍ ته درسیدو په معنا تفسیره وي، د ځوانۍ د مرحلي په نجونو کي چې میاشتنۍ ناروغۍ ورته پیدا کیږي او په هلکانو کې بیا دا وي چې له احتلام سره مخامخ کیږي په خوب او یا هم په ویښه کې احتلام وکړي او غسل وربانديِ اوړي او واجب شي. (نیازی،۱۳۸۹)

په ټوله کې انسان د عمر مختلیف پړاونه لري په ځینو کتابونو کې دغه پړاونه څلور په ځینوکې پدري او په ځینوکتابنو کې دغه په پنځو برخو ویشل شوي دي .او همدارنگه د اروایوهنې له پلوه هم مختلیفي پړاونه لري .

د ماشوم له پیدا کیدو څخه ورسته د ماشوم د دوري پړاونه په لاندي پنځو پړاوونه باندي ویشل شوي دي:

۱ـ کوچنوالی ۲ـ هلکتوب ۳: ځواني (ځلمیتوب، پېغلتوب ) ، ۴ـ لوالی، ۵ ـ زړښت . (عمر سهاب ـ ۴مخ )

خو دغه پړاونه بیا زموږ گران پیغمبر حضرت محمد ص په دریو مهمو برخو ویشلي دي او فرمایلي دي « الولد سید سبع سنن وعبد سبع سنین وزیرسبع سنین » ژباړه. ماشوم په لومړیو اوو کالو کې پاچا او سر خیل وي چې دغه یوه ځانگړي دوره وي او تر ټولو بهترینه دوره ده د انسان په عمر کې او دوهمو اوو کالو بیا هغه دوره ده یو ماشوم مطیع اومریه وي او په ورستیو اوو کالو کې بیا یو ماشوم وزیر او مسوول وي چې دغه دوره کې یو ماشوم ته زیات مسوولیتونه ورسپارل کیږي او د ژوند له ټکرونو سره مخامخ کیږي نو زموږ د گران پیغمبر په وینا او دهغه له څرگندونو څخه موږ دا نتیجه اخلو چې دانسان د ودي اولویېدا پړاوونه دری دي ، د پاچاهي ، اطاعت ،او وزارت نو دغه دری پړاونه له وړکوالي ، هلیکتوب او ځلمیتوب سره سمون خوري چې د دوغو پړاونو کې یو ماشوم کوم کارونه باید وکړئ چې هر مور او پلار په خپل یو ځانگړی مهال ویش او ترتیب لري .

خو په ټوله کې دغه دوري بیا په عموم کې په دو برخو هم ویشلی شوچې لومړي برخي ته یې د غیري تمیز دوره او دوهمي برخي ته یې د تمیز دوره ویلای شو.

لومړی غیري تمیز دوره: دغې دوري ته ځکه دغیري تمیز دوره وایې،چې په دغه مرحله کې ماشوم د ښو او بدو توپیر او تفکیک نشي کولای، دغه مرحله د تولد څخه بیا تر شپږو کلونو ترپایه پوري دوام کوي او یا هم د اووکلونو ترپیل پوري او دغه مرحله کي دماشوم عقلي او د ماغي رشد ډیر بطي وي.

دوهمه برخه د تمیز مرحله: دغه مرحله د غیري تمیزي دوري له پای ته رسیدو څخه ورسته شروع کېږي چې له اووکلني څخه شروع کېږي تر دیارلس کلونو پوري دوام کوي.په دغه مرحله کې د ماشوم ذهن انکشاف کړي وي، د ښو او بدو توپیر کولای شي. او د ولي او دلایلو له مخي دغه دوره یو څو عمده ځانگړني لاندي په مسلسل ډول بیان شوي.

الف له بیولوژیکي پلوه: له بیولوژیکي نظره معموله په دغه عمر کې دانسان دماغ او جسم کې ځیني تغیرات راځي،چې لویږي او انکشاف کوي او د ودي په حالت کې وي.

ب: ټولنېز دلیل: ډیرعلما په دي عقیده دي، چې په همدې عمر کې ماشوم بیروني چاپیریال سره اړیکه قایمه وي، مسجد، مدرسي، ښوونځي، بازار سره او په همدي ترتیب سره له کوره څخه بهره له ماشومانو سره اړیکه

ټينگه وي ترډېره حده کوښښ کوي چې له کوره څخه بهير چاپيريال سره اړيکه قايمه کړي. خو په دغه دوره کې بيا هم ماشوم خپله ټول اعمال عواقيب نشی سنجولای او غيرمسؤول دي. د مسؤولت کوم احساس نشي کولای. (نيازی،۱۳۸۹)

خوماشوم هغه څوک ده چې د هر کور ډيوه ده،کوم کور چې ماشوم نه لري د همدي ډيوي له روښاني څخه بي برخي وي.که غواړئ چې کورکې با تربيه ماشومان ولرئ بايد ښه روزنه يې وشي په ښو اخلاقو باندي سمبال شي د خپلو ماشومانو قدر وکړئ، د يو ټولنې روښنايې په همدي ماشوم پوري اړه لري که چيرته ښه وروزل شي او زياته پاملرنه ورته وشي نو په همهغه اندازه به مو ټولنه روښنانه وي او د پرمختگ په لور گامونه واخلي.

د ماشوم په اړه مختليف تعريفونه او بيلابيل نظريات موجود دي. ماشوم هغه گلالی او معصوم مخلوق دی چې د مور او پلار خوښي او د کورنۍ ښکلا گڼل کيږي. (مومند حسنزی،۱۳۹٦)

ماشوم په مور، پلار، ورور، د کورنۍ په ټولو غړو او د ټولنې په وگړو باندي ډېر حقونه لري لکه څرنگه چې مور او پلار په خپلو اولادونو حقونه لري ،نو په همدې ترتيب ماشوم هم په خپل وخت کي په مور او پلار يو لړ حقونه لري دا ځکه چې ماشوم د يوي ټولنې اساس گڼل کيږي. ماشوم د يوي ټولنې گل کڼل کيږي نو چې د يو گل هر څورمره زياته او پالنه کوه په هم هغه اندازه ټولنې ته ښکلا ورکوي نو راځې چې دغه ښکلا په خپلو هيلو ورسوه، مينه ورکړو، چې راتلوونکي ټولنه يې له خوند او ښکلا څخه کټه واخلي. زموږ گران پيغمبر (ص) به له ماشومانو سره زياته مينه کوله او په نرمې به يې خبري ورسره کولي، ډوډۍ به يې ورسره شريکه خوړله رسوله (ص) يوځای ويلي دي ((چا چې د مشرانو درناوی ونه کړ او پرکشرانو يې رحم ونه کړ هغه زموږ څخه نه دي .)) (نيازی،۱۳۸۹)

په ټوله کې ماشوم هغه چا ته وايې چې دځلميتوب مرحلي ته نه وي رسيدلی، هغه که هلک وي او يا نجلي خو کله چې يې عمر له اتلسو کالونوواوړي بيا په لويانو کې حسابيږي. چې بيا حقونه هم توپير لري.

د اسلام له نظره ځينې حقونه د ماشومانو په مشرانو په ځانگړي ډول په مور او پلار:

۱: په ماشوم د ښه او سم نوم ايښودل .

۲: ماشوم ته خوراک ، څښاک او پوښاک برابرول.

۳: ماشوم ته روغتيايې اسانتياوې برابرول .

۳: ماشوم ته د زده کړي اسانيتاوې برابرول.

۴: د ماشوم سمه اوسالمه روزنه کول.

۵: له ماشوم سره په ډير نرمي چلند کول. (مومند حسنزی ،۱۳۹٦)

لومړی په ماشوم د ښه او سم نوم ايښودل: دغه موضوع ډيری وخت په ځينو کورنيو کې په يوه ستونزمنه موضوع باندي اوړي، د کورنې ټول غړي کوښښ کوي چې ماشوم ته يو نوم انتخاب کړي او دغه ستونزه په هغه کورنيو چې د غړو تعداد يې زيات وي او ديکتاتوري په کې حاکمه وي نو د هغه کورنۍ مشر نوم ورته انتخابه وي او د خاوند او ميرمنې ترمنځ ستونزه وي چې د نوم په سره اتحاد نه لري خو دغه موضوع له اسلامي اړخ څخه لومړی

د پلار حق ده چې په خپل اولاد باندي نوم کیږدي نو دکورنۍ د مشر او نورو غړو دومره حق نده او بیا هم د ټول په خوښه یو اسلامې کتابي نوم باید د ټول په خوښه ورته انتخاب شي تر ټولوښه خبره ده . (قاسمي،۱۳۹۴)
دیو ماشوم نوم هغه څه ده چې د انسان په شخصیت باندي مثبت تاثیر لري او داسي نوم بابد وربانديي کیښودل شي چې کله هغه ماشوم په راتلونکې کې خپل نوم له بل چا څخه اوري او د خوشحالی احساس کوي او خوشحال شي. او داسي نوم باید وربانديي کیښودل شي چې دهغه اوصاف بیا په همغه ماشوم کې موجود وي، نوم د انسان په شخصیت باندي زیات تاثیر لري چې د بخاري حدیث شریف کې راغلي دي : یو شخص د حضرت محمد مصطفی (ص)په حضور کې حاضر شوي او اسلام یې قبول کړ او حضرت محمد (ص)پوښتنه ځیني وکړه نوم دي څه ده او هغه په ځواب کې ورته وویل نوم مې «حزون » ده نو دغه معناسمه نه ده او ګران پیغمبر «ص » ورته وویل چې ستا نوم به « سهیل » وي او سهیل د د نرم په معنا ده خو هغه شخص یې په ځواب کې وویل  کوم نوم چې پلار او مور راباندي ایښی بدل کړم او په عویض کې سهیل کړم حضرت محمد «ص» خاموش اختیار کړه او وویې ویل په کومو کورنیو کې چې سختي او تند مزاجي پیدا کیږي هغه د همدغه سختو او نامناسبو نومونو ایښودل وي ، هو هغه شخص د خپل نوم دبدل کیدو پیشنهاد قبول نه کړل که چیرته هغه شخص همدا نوم قبول کړی وایې نو د دوي په کورنۍ کې چې سختي وله په نرمې په بدل شوی وایې . نو له دغه حدیث شریف څخه معلومیږي چې نوم په یوه ټولنه کې او په انسان باندي څومره اغیزه لري دغهه ډول سخت او بې معنا نومومونه ډیری وخت په بېسواده کورنیو کې اېښودل کېږي. ځکه چې هغوي د نومونو په معنا نه پوهیږي (ستانکزی،۱۴۰۳ ).
همدارنګه ډېر داسې نور داستانونه هم شته چې تېرشوي دي او د ښه او معنا داره نوم په اړه ښه معلومات پکې شته.همدارنګه په ترمذي شریف کې داسي یوبل دستان هم چې د نوم په اړه پکي یو څه راغلي دي حضرت عمر «رض» یوه لوردرلوده.
نو حضرت محمد مصطفی «ص» ورڅخه وپوښتل څه نوم دي ورته غوره کړی ده، هغه نو حضرت عمر« رض» ورته وویل چې د « عاصیه » نوم مې ورته غوره کړی دي، نوحضرت پیغمبر «ص» ورته وفرمایل ته پوهیږي چې «عاصیه » د ګنهګار په او نافرمان په معنا ده، ګران پیغمبر «ص» ورته وفرمایل د هغې نوم «جمیله » کړه نو حضرت عمر «رض» هغې نوم عوض کړ او دا ځکه چې د انسان نوم د انسان په شخصیت باندي زیاته اغیزه لري او همدارنګه پیغمبر «ص» د زیاتو کسانو نومونه وربدل کړي دي چې سمه معنا یې نه درلوده.نو ګران پیغمبر «ص» هم فرمایلي دي: ((تسموا باسما الانبیا واحب الاسما الی الله عبدالله و عبدالرحمن )) چې خدای «ج» ته تر ټولو ښه او محبوبترین نومونه عبدالله او عبدالرحمن دي او همدارنګه وایې چې تاسو په خپلو اولادنو باندي د پیغمبرانو نومونه کیږدي چې هغوي ډېر نیک خلک دي او د هغوی د نیکي اغېزې په دوي باندي وشي او د نوم د نومولو څخه د هغوی د اخلاقو، دلاوري، انسانیت، ریښتنولي اغیزه هم وربانديي وشي داسې نومونه ورته انتخاب کړي لکه ابراهیم، اسحاق ،اسماعیل ،یعقوب ، او داسي نورچې دوي هریو د زیاتو ښو خویونو څخه برخمن ول . او د هغو کسانو نومونه باید ورته انتخاب نه کړو چې هغوي له پخوا څخه د الله «ج» سره دښمنې کړي ده او او یا یې نوم ناسمه معنا لري. (ستانکزی،۱۴۰۳ )

لکه: فرعون، قارون، نمرود او داسي نور داهغه خلک دي چې په ښکاره يې له خدای «ج» سره دښمنې کوله نو دنوم ايښودل يې هم بدي اغېزي لري.

دوهم ماشوم ته خوراک، څښاک او پوشاک برابرول : د ماشوم د لومړي خوراک په اړه په قرانکريم کې راغلي دي،چې تاسو پوره دوه کاله ماشوم ته د مور شيدي ورکړئ. دغه برخه ډېره اړينه ده چې د ماشوم خوراک او پوښاک ته بايد زياته توجه وشي. ماشوم ته بايد پاک او هلال خواړه ورکړل شي ځکه چې ماشوم په دي نه پوهېږي چې دغه خواړه پاک دي ناپاک دي حلال دي ،حرام دي دغه ټوله ضمه واري د موراو پلار په غاړه دي مور او پلار بايد په مکمله توگه هڅه وکړي چې حلال خواړه په خپلو ماشومانو باندي وخوري، او له حرامو او مشکوک خوراک څخه پرهيز وکړو. هغه څوک چې د حرامو او هلالو په جمعه کول کې يې توپير نه کوي د هغوي ماشومان هم په همدي ترتيب سره لويږي او بيا دي موراو پلار د خير تمه ورڅخه نه کوي .

د ماشوم نفقه تر قانوني وخته په خپلو مور او پلار باندي ده. له هغه ورسته چې ماشوم د ځوانې مرحلي ته ورسيدل نور يې بيا دغه مسووليت له غاړي اوړي. خودغه توپير بيا په نارينه ماشوم او ښځينه کې شته چې هغه بيا ځانته بحث ده.

دريیم ماشوم ته روغتيايې اسانتياوې برابرول: ماشوم ته روغتيا يې اسانيتاوي برابرول د موراو پلار له دندو څخه شمارل کيږي. تر هغه وخته دغه لړۍ دوام لري ترڅوچې ماشوم خپل قانوني عمر ته رسيږي دا ځکه چې ماشوم ضعيفه وي او مورږ پلار له اساسي مسووليتونوڅخه گڼل دکيږي نو ډېر کوښښ بايد وشي چې ماشوم له داسي امراضو او ويروسونو څخه مخکي له مخکي ساتنه وکړو او خدای مه کړه چې په راتلوونکې کې بيا دهغه ژوند له خطر سره مخ نه شي او مسوٴوليت يې مور او پلار په غاړه نه وي.

څلورم -ماشوم سمه اوسالمه روزنه کول: مور، پلار بايد په گډه سره اوهمکاري د خپلو ماشومانو ښه روزنه وکړي ځکه چې د دواړو دنده او مسووليت ده، چې خپل او لادونه ښه وروزي او په راتلوونکې کې له هغوي څخه باتربيه انسانان جوړ کړي. چې مور خپله دمينې، شقفت ،مرحمت، او مهرباني يو سمبول ده.همدارنگه بيا پلار هغه څوک ده چې ديوي کورنۍ ټول مسووليت د هغه په غاړه ده. او هري ستونزي ته يې غاړه ايښي ده. او له ستونزو سره مبارزه کوي هر څه په پراخه سينه زغمې چې دغه خپله د دلاوري او شجاعت يوه بيلگه ده. ډېر بايد کوښښ وشي چې خپل ماشوم سالم تربيه کړو د هغه څه دي چې لومړی سرچينه يې دمورغږ او بيا ورسته پلار او د کور نورغړي دي. چې هر يو په خپله اندازه د ماشومانو په روزنه او تربيه خپله ونډه لري، خو مور او پلار بيا هغه څوک دي چې د بل هر چا يې مسووٴليت ډېرده.

مور او پلار بايد خپل ماشومانو ته هغه وخت چې يو ماشوم په اولو اوو کلونو کې وي هغوي ته کليمه طيبه، سلام اچول، د اسلام پنځه بناوي ، اسلامي احکام، د مور او پلار درناوي، د مشران درناوي ، سلام اچول ، د ډوډۍ،خوړلو اداب، د لاري تللو اداب، د مقدس ځايونو اداب ، پرحيواناتو درحم کولو اداب، او داسي نورو مهمو موضوعاتو په اړه مناسب معلومات ورکول دي، چې ماشومان بايد په پوره ډول خبروي او داسي نه چې مور او پلار د خپلو ماشومانو ته غلط معلومات ورکړي او هغوي له بي ځايه ډار، بلاگانو او شيشکو څخه وويروي ځکه دغه بيا د

ماشوم په ذهني حالت باندي ناوړه اغیزي لري او په راتلوونکې کې بیا همداسي یو ډارن انسان ورڅخه جوړیږي او ژوند یې له یولړ ستونزو سره مخامخ کیږي.
مور پلار باید خپلو ماشومانو په مخ کې په خپل منځ کې شخړه ونه کړي. اوخپله ژبه او اعمال زیات تر خپل واک لاندي راولي، که دوي د خپلو ماشومانو په مخ کې بې ادبه خبرې وکړي او یا بد عمل وکړي نو ماشوم هغه فعل او هغه څه وایې چې مور اوپلار یې کوي. دا ځکه ماشومان تقلید کوي او هغوی دا درک نشي کوي لای چې دغه عمل چې یې مور او پلار کوي ایا دغه کار مثبتې اغیزي لري او یا هم منفي نو درک نه لري او په راتلوونکې مې یو خشم انسان ورڅخه جوړیږي او د خپلې کورنې او ټولنې لپاره سرخوږی وي.
پنځم ـ له ماشوم سره ډېر نرم چلند کول: نرمي چې په هر شي کې وي هغه ته ښکلا، سمون او سکون وربښی نرمې چې له هر څه څخه وباسو په هغه کې عیب او نقص پیداشي، په خبرو اترو کې نرمي په څېره کې مسکا او ورین تندی راولي او دهغه تر ټولو ښې ځانګړني دي چې یوازي د ښو کسانو په برخه وي، دا په اصل کې د مومنانو صفات دي، ددي مثال داسي دي لکه د عسلو مچۍ چې پاک شی خوري او پاک عسل جوړوي،هغه پرګل باندي کښیني خو ګل نه ماته وي.
دنرمي په اختیارولو سره الله تعلی هغه نعمت اوسهولت را کوي چې دسختۍ په حاصلولو سره یې نشو حلاصولای نو الله تعالی دي هر مسلمان ته همداسي دنرمي او خوشحالي زړه ورپه برخه کړي. له ماشوم سره په نرمۍ چلند کولو باندي زیات تاکید شوي ده، هم له دینې پلوه او هم د اروایوهنې له پلوه نو زیات کوښښ باید وشي چې له ماشوم سره په زیات نرمې خبري وشي. ځکه څومره چې په نرمې سره ماشوم کار کوي او خبره منې په تنده لهجه یې نه منې او انکار کوي. نو له ماشوم سره باید په نرمي اومینې سره خبرې وشي او کار ورته وښودل شي او هغه کار چې مور په ماشومانو باندې کوي اول یې باید د ګټو په اړه خبرې وشي په دغه اړه زموږ ګران پیغمبر «ص» فرمایلي(( تاسو له خپلو ماشومانو سره زیاته مینه کوله او په نرمې خبرې ورسره وکړي )) کوم کار چې په نرمي سره کیږي په زیات تندي هغه کار نه کیږي نو موږ له خپلو ماشومانو سره په نرمي خبرې وکړو په ارامو مغذو ورسره افهام تفهیم وکړو پایله به یې هم مثبته وي. (مومندحسنزی،۱۳۹٦ )
په پای کې دي پایله ته رسیږو چې دغه یو لړهغه حقونه دي چې دماشوم دي د کورنۍ مشران لکه پلار، مور، مشر ورور، مشره خور او همداسیدټولني په نوروغړو باندې لري، همدارنګه ځینې نور حقونه هم شته دي، چې نړیوالو ټولنو او یو تعداد بشري ټولنو ماشوم ته ورکړي دي. خو کوم حقونه چې اسلام انسان او بیا په ځانګړي ډول ماشوم ته ورکړي دي بل هیڅ کومي ټولنې، بنسټ، نه دي ورکړي دي د جهالت په دوره کې د ماشومانو حقونه په مکمل ډول تر پښو لاندې شوي ول او په ځانګړي دول د ښځینه ماشومانو (انجونو) چې هغه په په عربو کې ژوندي تر خاورو لاندي کیدلي خو کله چې د اسلام مبارک دین ظهور وکړ او اسلامي دین په نړۍ کې خپورشونو هغه وخت دټولنې هر طبقي خپل ځای پیداکړل او خپل حق ورکړ شوي او داټول د اسلام برکت ول. په ۱۹۵۹ میلادي کال د ماشوم دحقونو نړیواله اعلامیه د ملګرو ملتونو لخوا تصویب شوه. په دغه علامیه کې لاندي ټکو ته پاملرنه شوي ده.
لمړی ـ له توپیر څخه پرته د ماشوم پیژندل .

دویم ـ د ماشومانو څخه د دولتونو ځانګړی ملاتړ.
دریيم ـ د قوم اوملي پېژندګلوی درلودل .
څلورم ـ د ماشومانو امنیت او سالمه روزنه .
پنځم ـ له معیوبو ماشومانو سره مرسته.
شپږم ـ له ماشومانو سره مینه او په تفاهم د هغوی څارنه او ساتنه.
اووم ـ ماشوم ته د وړیا زده کړو د اسانتیاوو برابرول. (پښتواتم ټولګي معارف نصاب،۱۳۸۹ )
لومړی ـ له توپیر څخه پرته د ماشوم پیژندل: دا موضوع ده چې په اسلام مبارک دین کې هم ورته اشاره شوي ده.ځکه چې په اسلام کې نژادي، قوي، مذهبي توپیرونه نشته دغه توپیرونه خو نه په ماشوم او نه په مشرانو کې شته خو په ماشومانو کې بیخي له سره دغه توپیر نشته ځکه ماشوم که د هري ټولنې وي هغه ماشوم ده،او ځانګړي حقونه لري دغه مشران دي چې دوي په کومه لاره رهمنایې کوي او هغه که مثبته وي او یا منفي د هري ټولنې وګړي باید ماشوم ته خپل حق ورکړي هغه که اکثریت وي او یا اقلیت وي، حق بیا حق ده ځکه خدای حق پیدا کړي ده چې د هر ملت او هري ټولنې او هر مذهب وي هغه د هغه حق ده باید ورکړ شي. (نیازی،۱۳۸۹،پاڼه:۲۷)
دویم – د ماشومانو څخه د دولتونو ځانګړی ملاتړ:هردولت مکلف ده.چې دخپلو هیوادوالو او په ځانګړي ډول ماشومانو ته زیاته پاملرنه وکړي د هغوي د تعلیم لپاره ، روغیتیا لپاره، بدني روزنې، تفریح او داسي نورو برخو لپاره ځانګړي پاملرنه وکړي. او دغه پاملرنه باید ټولو ته په یو برابر ورکړ شي ځکه چې موږ په لومړي سرکې وویل چې ماشوم له توپیر څخه پرته وپیژندل شي ، هغه دولتونه چې په پورته برخه کې عاجزدي او توانایې یې نه لري له همکارو بنسټونو څخه دي مرسته وغواړي او د هغوي په مرسته دي خپلو ماشومانو ته اسانتیاوي برابري کړي، تر څو یې د هیواد په راتلوونکې کې د پام وړ ګامونه اخسیتي وي او خپل مسوولیت یې ادا کړی وي.(ستانکزی.۱۴۰۳)
دریيم:د تابعت حق درلودل: دماشوم بل اساسي او مهم حق د تابعت حق درلودل دي تابعت په لغت کې تبع ته وایې چې د پیروي او او متابعت په مانا ده. په اصطلاح کې هغه اړیکه ده، چې یو وګړی یا فرد یو ځانګړي هېواد ته منسب (نسبت ) ورکوي او یا هم تابعیت له هغي اړیکي څخه عبارت ده ، دهغې له مخي دیوهېواد یو وکړی دپیروي یا تابعیت په رڼا کې د خپل متبوع هېواد دسیاسي ملاتړ څخه برخمن ګرځي او دغه اړیکه وګړي ته داډ ورکوي، چې له نورو هیوادونو یا بهرنیو وګړو سره د کړنو او راکړه ورکړه پرمهال دغوښتني سره سم دخپل متبوع هېواد له هغه سیاسي ملاتړ څخه برخمن شي،کوم چې نړیوالو حقوقو پیژندلی ده. د تابعت داخستلو په اړه د نړۍ خلک له دوه روشونو څخه کار اخلي یو یې د وینې او دوهم یې د خاوري، خو زموږ په هېواد کې دوینې سیستم منلی ده او وګړي د دې سیستم تابع یې دي.
د ۱۳۷۹هـ ش کال د تابعت د قانون د نهمي مادي مطابق، یو وګړی چې د افغانستان دننه یا بهر له افغانستان څخه د هغوي والدینو څخه، چې د افغانستان تابعیت ولري، وزیږي، د افغانستان تابع ګڼل کیږي نو که له افغانستان څخه بهر هرڅوک هر ځای تولد شي دافغانستان تبعه بلل کیږي. او د افغانستان تابعت اخیستلای شي، یوماشوم

باید ملي هویت ولري، ملت ولري، قوم ولري، خیل ولري، ځکه انسانان پیژندل کیږي په همدې ځانګړنو باندې، همدا څیزونه دي چې زموږ په ژوند کې اسانتیاوي راولي هم په خپل هېواد او هم بل هېواد کې.
څلورم - د ماشومانو امنیت او سالمه روزنه: د ماشوم امنیت او سالمه روزنه هغه څه ده، چې په یو دولت باندي حق لري د ښوونې او روزنې د اړینو دورو اماده کول د هغوي لپاره اړین درسي پرګرامونه برابرول، د هغوي له سویه سره درسي نصاب برابرول د لازمو درسی موادو برابرول، د ښوونځیو او مدرسو امنیت ساتل او د تفریحي ځایونه خوندي ساتل په بهراني حالتونو کې ماشومانو ته ځانګړي پاملرنه کول او همدارنګه دجنګو په وختونو کې ماشومانو ته ځانګړي پاملرنه کول، د ماشوم په سالمه روزنه او امنیت ساتلو چې لازمه برخه ونده لري او دغه دماشومانو یو حق ده په خپل دولت باندي چې باید په احسن ډول یې تر سره کړي.(تراب،۱۳۸۷)
پنځم ـ له معیوبو ماشومانو سره مرسته: له معیوبه ماشومانو سره اړینه مرسته هغه څه ده، چې نه تنها د دولتونو دنده نه دی بلکي د ټولو وګړو حق ده چې له هغوي سره اړینه مرسته وکړي او جدي مراقیبت یې وکړي، داځکه چې هغوي د مرستي او لاس نیوي مستحق دي یو خو ماشومان او بل بیا معیوب دي.
دولتونه بیا په دغه برخه کې تر ټولو زیات کار کولای شي چې له معیبو ماشومانو سره مرسته وکړي د هغوي لپاره اړونده کیسبونه، مهارتونه او د تعلیم او تربیه په اړه یې له اړوند نړیوالو بنسټونو سره تړونونه لاسلیک کړي تر څو د هغوی لاس نیوي وشي او تر ډیره حده یې ښه پالنه شوي وي او بل چاته احتاج نه شي.
د ماشومانو لپاره که هرڅومره زیار ویستل شي په هغوي باندي سرمایه ګزاري وشي ښه کار دی ،ځکه هغوی ددې ټولنې راتلوونکې دي او دهمدې ټولنې معماران دي. ترڅو دوي انساني ټولنه له بهرانې حالت او بیلارۍ څخه وژغوري او خپله ټولنه خپل هېواد له نورو هېوادونو سره په هغه قطار کې ودروي چې نوري ټولنې دعبرت درس ورڅخه واخلي. زموږ ماشومان زموږ راتلوونکی دي. (تراب،۱۳۸۷)

**۴ـ مناقشه**

ماشومان د ټولنې بنسټ جوړوي، او د دوی د حقونو رعایت د سالمې، پرمختللې او باثباته ټولنې د جوړېدو اساس ګڼل کېږي. په ټولنیز ژوند کې د ماشوم حقونه یوازې د هغوی د ژوندي پاتې کېدو او فزیکي خوندیتوب تر کچې محدود نه دي، بلکې دا حقونه د هغوی فکري، اخلاقي، تعلیمي، ټولنیز، کلتوري، او رواني ودې ته هم پراخېږي. د دې حقونو د نه تأمین نه یوازې د ماشوم په شخصیت منفي اغېزه کوي، بلکې د ټولنې راتلونکی نسل له بحران سره مخ کوي. په افغانستان او ورته هېوادونو کې، ډېری ماشومان له کوچنیوالي کار ته مجبوره کېږي، تعلیم ته نه ورځي، یا هم له فقر، نا امنۍ، کورنۍ ستونزو، جنسیتي تبعیض، او ټولنیزو ناسم فهمونو سره مخ وي. دا ټول عوامل د ماشوم د طبیعي ودې، شخصیت جوړونې، استعداد راویستلو، او اخلاقي روزنې پر وړاندې خنډونه جوړوي.
د همدې څېړنې له نورو څېړنو سره توپیر لري هغه دا دی کومو څېړنو کې چې د ماشومانو د حقونو په اړه شوي دي هغوی کې تنها د حقونو یادونه شوي دی او دغه څېړنه کې بیا د هغوي په ورکړه او اړوند کسانو مسوؤلیت پیژندل او په نښه کول دي. د همدې موضوع بل اړخ یې دا دی چې د ماشومانو د حقونو په هغه عواملو باندې هم بحث شوي چې خلک ورته پاملرنه نه کوي.همدارنګه د ماشومانو د حقونو په ورکړه کې ټول دخیل اړخونه

پيژندل شوي دي هغه كه والدين دي، ښوونكي دي، د ټولنې مشران دي، عام وګړي دي.دغه هغه څه ول چې په تېرو څېړنو كې نه ترسترګو كيدل. نو په دهمدې دليل ځنې وړانديزونه دي چې اړوند ادارې، وګړي يې بايد د هغوی په ادا كولو كې ونډه واخلي.

۱ - د عامه پوهاوي لوړول بايد د كورنيو، ښوونكو او ټولنې نورو غړو ته د ماشومانو د حقونو په اړه روزنه وركړل شي.

۲- تعليم اجباري او وړيا شي دولت بايد د ټولو ماشومانو لپاره وړيا، باكيفيته او اجباري زده‌كړې برابرې كړي، تر څو د علم حق څخه هيڅوک هم پاتې نه شي.

۳ ـ قانوني ملاتړ بايد د ماشومانو د حقونو د خونديتوب لپاره قانوني چوكاټ پياوړی شي، او هغه قوانين چې شته، عملي تطبيق يې يقيني شي.

۴ـ تاوتريخوالى منع شي هر ډول فزيكي، رواني او جنسي تاوتريخوالى پر ماشومانو بايد سخت منع شي، او سرغړوونكي عدلي تعقيب شي د ماشومانو غږ ته ارزښت وركول بل هغه اساسي برخه ده چې ماشومانو خپل نظر څرګند كړي او د دوی فكرونه واورېدل شي.

۵ ـ اسلامي او انساني ارزښتونه ورزده شي د اخلاقو، احترام، همكارۍ او مهربانۍ تعليم بايد له ماشومتوبه وركړل شي.

٦ ـ د كورنۍ ونډه پياوړې شي والدين دې وهڅول شي چې خپلو ماشومانو ته پاملرنه، مينه او سالم تربيت وركړي.او همدارنګه د لوبو ځايونه جوړ شي دولت او شخصي سكتورونه دې د ماشومانو لپاره خوندي تفريحي او لوبغالي جوړ كړي.د كورنۍ ونډه پياوړې شي والدين دې وهڅول شي چې خپلو ماشومانو ته پاملرنه، مينه او سالم تربيت وركړي.

**۵ـ پايله اخيستنه**

ماشوم د ټولنې تر ټولو نازک، پاک او اغېزمن قشر دی. د ماشومانو شخصيت، اخلاق او فكري جوړښت د هغه چاپېريال او روزنې تابع دی چې په كې لويېږي. ځكه نو د ماشومانو حقونو ته پوره پاملرنه نه يوازې د دوی د سالمې ودې تضمين كوي، بلكې د ټولې ټولنې لوری هم روښانه كوي. په ټولنيز ژوند كې د ماشومانو حقونه د انسانيت، عدالت او ټولنيز پرمختګ اساس جوړوي. د موضوع د انتخاب دليل دا دی چې زموږ په ټولنه كې د ماشومانو پر حقونو د پوهاوي كچه كمه ده، ډېر ماشومان له تاوتريخوالي، بې‌وزلۍ او بې‌پامۍ سره مخ دي، او د هغوی د شته حقونو د خونديتوب لپاره منظمو هڅو ته اړتيا لري.

د ماشومانو د حقونو تاريخي شاليد د اسلام مقدس دين له ظهوريدو څخه ورسته وده وكړه او زموږ ګران پيغمبر حضرت محمد ص د ماشومانو په روزنه او له هغوي سره په رويه باندې زيات ټينګار كړی دی. او همدا موضوع د نړۍ په كچه د ماشومانو د حقونو د سمې پېژندنې لپاره لومړنۍ هڅې د ۱۹ پېړۍ په وروستيو كې رامنځته شوې، خو رسمي او نړيوال اسناد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۹م كال "د ماشومانو د حقونو كنوانسيون" له تصويب وروسته پراخ شهرت وموند. په دغه كنوانسيون كې د ماشوم ژوند، زده‌كړه، روغتيا، ساتنه او ګډون د بنسټيزو حقونو په

توګه تعریف شوي دي. په افغانستان کې هم که څه هم د ماشوم حقونو یادونه په قوانینو کې شته، خو د عملي پلي کېدو برخه کې لا هم زیات کار ته اړتیا لیدل کېږي. په ټولنیز ژوند کې د ماشومانو د حقونو ننګونې لا هم شته ،که څه هم د ماشومانو حقونه په نړیوالو سندونو کې خوندي دي، خو عملي ستونزې لا هم دوام لري. د کورني تاوتریخوالي زیاتوالی، بېوزلي او اقتصادي فشارونه، په لرې پرتو سیمو کې د ښوونځیو کمښت، دودیز محدودیتونه او ناسمې ټولنیزې فرضیې، جګړې، ناامني او مهاجرت د والدینو د روزنیز شعور کمښت دغه ټول عوامل د ماشومانو سالمه وده او حقونه اغېزمنوي. د والدینو او کورنۍ رول،کورنۍ د ماشوم لومړنۍ ښوونځی دی. والدین باید د ماشوم احساساتي، عاطفي او اخلاقي اړتیاوې وپېژني او د مثبتې روزنې لارې غوره کړي. نرم چلند، مشوره، مینه، وخت ورکول او د ماشوم په خبرو غوږ نیول د ماشوم د شخصیت په وده کې مهم رول لري. د کورنۍ بېپامۍ او توند چلند د ماشوم روحي او رواني زیانونه زیاتوي.او دغه برخه کې د ټولنې د هرې طبقي وکړې خپل مسوولیت لري ، هغه که والدین وي، ښوونکي وي ، عام وکړي، دولت وي،او یا هغه خیریه ټولنې چې د ماشومانو په روزنه کې مسوؤلیت لري.

**٦ـ ماخذونه**

**قران کریم**

تراب توتاخیل، رمضان،(۱۳۸۷ ل). کورنۍ او ماشوم پالنه کابل: مصورخپرندویه ټولنه.

دکتاب نوم داتم ټولګي پښتوکتا. (۱۳۹۸ل) مولفین. د پوهنې وزارت دتعلیمي نصاب دپښتو ژبې او ادبیاتوڅانګې د دتدرسي کتابونو موٌلفین.

ستانکزی، عبدالناصر. (۱۴۰۳ل ) د ماشومانو حقوق،ننګرهار. مومند خپرندویه ټولنه.

عمر، سهراب، (۱۳۹۴ل).ازبذر تا جنارکابل. ناشر باران امید مطبعه.

فضلي، ډاکتر محمد. ( ۱۳۹۵ هـ ش) جامعه شناسي ( ټولنپوهنه ) کابل: سعید کتاب خپرندویه ټولنه ،

قاسمي، مفتي محمد قاسم . (۱۳۹۴ل ) تربیت واصلاح فرزندان زاهدان. انتشارات ندوی رحمه الله .

مومند حسنزی، نرګس. (۱۳۹٦ل ) دماشومانو ادبیاتو لیکلارښود کابل. خپرندوی د افغانستان دماشومانو ملي بنسټ.

میا خیل، عطا محمد، ( ۱۳۹۷ل ). ماشوم پالنه، کابل. سروش کتاب پلونځی.

نیازی، رفیع الله، (۱۳۸۹ل). دماشومانوادبیات کابل. خپرندوی مصورخپرندوی بنسټ .